## روسیه د مهار او خپلواکې سیاست تر منځ او نړۍ ته د دې شخړې خطرونه

**(درېیمه برخه)**

**(ژباړه)**

په تېره برخه کې مو بیان کړه چې د روسیې دې ته پام شوی، چې امریکا غواړي دغه هېواد سره وپاشي، پر یوه غاړه‌اېښودونکي دولت یې بدل کړي او دغه هېواد ته نړدې په نفوذي سیمو او هغو هېوادونو کې قدرت پیدا کړي، چې د روسیې اتحادیه اوسمهال هلته فعالیت لري. په دې برخه کې د تېر  بحث د بشپړېدو لپاره ځینې موارد بیانوو:

د روسیې ولسمشر «ویلاد میر پوتین» د ۲۰۲۳م کال د فبروري پر ۲۱مه پر اوکراین د برید په لومړۍ کلیزه کې د پوځ د مشرانو په غونډه کې د خپلې کلنۍ وینا پرمهال وویل: «د غرب د مشرانو موخه له هېڅا څخه پټه نه ده، هغوی هوډ لري چې روسیه له ستراتیژیکې ماتې سره مخ کړي. په بل عبارت، هغوی هوډ لري چې په یو ځل زموږ ریښې له منځه یوسي.»

خو د روسیې د بهرنیو چارو وزیر «سرګي لاوروف» د روسیې د رسمي خبري اژانس په حواله د ۲۰۲۲م کال د نوامبر پر ۲۷مه پخپلو څرګندونو کې وویل: «د غرب او د هغوی د لاسپوڅي (د اوکراین د ولسمشر ولادیمیر زلنسکي) ټولو اقداماتو د اوکراین د بحران نړیوال ماهیت تایید کړی او د امریکا او په ناټو کې یې د متحدینو ستراتیژیکه موخه له هېچا څخه پټه نه ده. هغوی هوډ لري چې د روسیې پر وړاندې په جګړه کې بریالي شي او له دغې بریا څخه زموږ د هېواد د کمزوري کېدو او یا له منځه تلو لپاره د کړنلارې په توګه ګټه واخلي.» لاوروف پخپلو خبرو کې وویل: «زموږ مخالفین او دښمنان د دې موخې د ترلاسه کېدو لپاره هر لازم کار ترسره کوي.»

هغه څه چې امریکا یې د روسیې پر وړاندې همدغه تصمیم نیولو ته اړه کړه، د تړون یا ستراتیژیک مشارکت په نوم د روسیې او چین نږدېوالی دی، چې دواړو هېوادونو تر تایید وروسته پرې ټینګار کړی او مادې او شرایط یې په ۲۰۲۲م کال کې وغځول شول. پر دې سربېره هغه څه چې د ستونزې لامل ګڼل کېږي، د ۲۰۲۳م کال د اپرېل پر ۲۱مه مسکو ته د چین د ولمسمشر «شي جین پینګ» سفر او له روسیې سره د ځینو هوکړو لاسلیکول دي. همدارنګه د چین ولسمشر د دواړو هېوادونو تر منځ د ستراتیژیک مشارکت پر مفهوم هم ټینګار کړی دی. د دواړو هېوادونو ولسمشرانو پخپلو لیدنو کې وویل: «ناټو سازمان په اسیا او ارام سمندر کې د خپلو تړونونو او هوکړه‌لیکونو د ملاتړ هڅه کوي.» داسې تر سترګو کېږي چې امریکا یو ځل بیا د نظامي تړونونو او نظامي اډو په تاسیس سره د مخالفانو د کنټرول سیاست را ژوندی کوي. په

دې ناسته کې د چين او روسيې ولسمشران هوکړې ته ورسېدل، چې د دواړو هېوادونو تر منځ کلنۍ سوداګريزې معاملې او راکړې ورکړې له ۱۵۰میلیارده امریکایي ډالرو څخه ۲۰۰میلیارده ډالرو ته ډېرې کړي.

همدارنګه په دې ناسته کې هوکړه وشوه چې د «۱سیبریا ځواک» د نل‌لیکې بشپړېدو او پراختیا لپاره د «۲سیبریا ځواک» په نوم سره چين ته د ګازو صادراتو بله نل‌لیکه جوړه شي، چې د نوې سیبریا نل‌لیکه د چين له شمال سره ونښلوي. پوتین ټینګار وکړ چې روسیه کولی شي د انرژۍ د صادراتو لپاره د چين ستره غوښتنه پوره کړي. د روسیې او چين د مشرانو تر ناستې وروسته په بله بیانیه کې پوتین څرګنده کړه، چې نوموړی له چين سره یوځای د څو قطبي، عادلانه او ډیموکراټیک نوي نړیوال نظم د تشکیل لپاره کار کوي، چې باید د ملګرو ملتونو، امنیت شورا او نړیوال قانون د مرکزي رول او د ملګرو ملتونو منشور د اصولو او موخو پر بنسټ کار او فعالیت وکړي.

د غرب د ادعا له مخې د روسیې پر وړاندې څرګندونې، اقدامات او ګواښونه ډېر شوي او په ۲۰۲۳م کال کې په مادريد کې د ناټو په وروستۍ ناسته کې تندو څرګندونو دا مسله نوره هم روښانه کړه. پر دې سربېره، هلته د شته سیاستوالو بیانیې هم د دې مسلې څرګندونه کوي. «روسیه د ناټو د غړو امنیت او سولې لپاره مستقیم او ستر ګواښ بلل کېږي.» په دې ناسته کې د ناټو غړو څرګنده کړه چې چين د ناټو غړو هېوادونو او د نوې ستراتیژیکې لارې په نقشه کې د هغوی امنیت ته، چې د مادرید د ناستې په جریان کې تصویب شوه، ستر ګواښ او ننګونه ده. دغه ګواښ او ننګونه هغه وخت ډېره شوه چې غربي هېوادونو او په سر کې یې امریکا هوډ وکړ، چې دوه هغه هېوادونه په ناټو سازمان کې شامل کړي چې له روسیې سره اوږدې پولې لري. ځکه له روسیې سره د ناټو د سرحدونو اوږدوالی ۲٦۰۰ کیلومتره ته رسېږي او له ناټو سره د سویډن او فنلنډ په یوځای کېدو سره ۱۳۰۰ کیلومتره واټن نور هم زیاتېږي.

د دغو ننګونو او ګواښونو پر وړاندې د چين او روسیې غبرګون ډېر تند او سخت و، څنګه چې چين ناټو په ناوړه برید او د خپل شهرت په بې باوره کېدو تورنه کړه او همدارنګه د چين ډیپلوماټیکو استازو په اروپایي ټولنه کې وویل: «ناټو ادعا کوي چې نور هېوادونه ننګونکي دي، خو ناټو پخپله په ټوله نړۍ کې ستونزې راپیدا کوي.» مګر روسیې بیا د چين په پرتله د امریکا پر وړاندې تندې څرګندونې وکړې. د روسیې د دفاع وزیر سرګيي شویګو د امریکا د دغه هوډ په اړه وویل: «له ناټو سره د فنلنډ یوځای کېدل او د نظامي چمتووالي د ډېرېدو لپاره د نظامي ایتلاف اقدام د نښتو ګواښ نور هم ډېروي.» نوموړي همدارنګه زیاته کړه چې د بیلاروس ځینې نظامي هوايي الوتکې همدا اوس اټومي سرګلولې وړلی شي او بیلاروس ته د سکندر توغندیو سیسټمونه لېږدول شوي دي؛ په دې توګه څرګندېږي چې له دغو سیسټمونو څخه د معمولي یا اټومي توغندیو د لېږد لپاره ګټه واخلي.

روسیه د امریکا پر اصلي موخو تر پوهېدو وروسته دغو غربي سیاستونو ته تسلیم نه شوه، بلکې د ناټو سازمان پر وړاندې یې، چې ۵۲ هېوادونه پکې شامل دي، یو شمېره گامونه پورته کړل. لکه؛ اروپا ته د گازو د جریان ۴۵سلنه راټیټول، چې د روسیې پر گازو پورې تړلې وه او دغه اقدام په ځانگړي ډول المان د انرژۍ د بحران په برخه کې اندېښمن کړ. همدارنگه روسیې د گازو او انرژۍ نوې نل‌لیکې جوړې کړې، پخوانۍ نل‌لیکې یې پیاوړې او خپله گټه اخیستنه یې ډېره کړه. همدارنگه روسیې د سیبري په سیمه کې د «کوویکتا» د گازو کارول پراخ کړل، چې د سیبري ځواک نل‌لیکو له کرښې سره نښلول شوي او د چین پر لور روان دي. همدارنگه روسیې هڅه وکړه چې د خپلې انرژۍ (تېلو او گازو) صادرات د اروپا پر ځای چین او هند ته صادر کړي، هغه هم په ډېره ارزانه بیه، چې د هر بېلر تېلو بیه ۳۵ ډالر ده.

روسیې له چین سره د مادي او تلپاتې مالي ملاتړ لپاره خپلې اړیکې پیاوړې کړې. له روسیې سره د دغو اړیکو پیاوړتیا د روسیې په مقابل کې د غرب د سیاستونو پر وړاندې د چین د ولسمشر په گوت‌څنډنه او خبرداري کې ښکاره شوه. په ځانگړي ډول د پوتین پر وړاندې د نړیوالو جنایتونو د محکمې تر تصمیم وروسته او هغه وخت چې د چین ولسمشر د ۲۰۲۳م کال د اپرېل پر ۲۰مه مسکو ته ولاړ، له روسیې سره یې ځینې اقتصادي تړونونه لاسلیک کړل، د ستراتیژیک مشارکت پر موضوع یې ټینگار وکړ او د چین د سولې هڅې، چې امریکا یې سخته مخالفه ده، طرحه کړې. روسیې خپله نظامي جبهه په ځو برخو کې پیاوړې کړه. له هغو ډلې د اوکراین په جبهه کې د واگنر ځانگړو ځواکونو ډېرېدل وو. دغه هېواد په ۲۰۲۲م کال کې د سرتېرو او نویو کارکوونکو د استخدام پروسه پراخه او د احتیاطي ځواکونو تمرینونه یې ډېر کړل. وروسته پوتین د ۲۰۲۳م کال د اپرېل پر ۱۵مه د سرتېرو د استخدام نوی قانون لاسلیک کړ، څنگه چې د ۲۰۲۳م کال د جنوري پر ۱٦مه یې له بیلاروس سره نظامي تمرینونه پیل کړل. د بیلاروس دفاع وزارت د دغو تمرینونو په جریان کې وویل: «د گډ هوايي چلند په چوکاټ کې د روسیې او بیلاروس د وسله‌والو ځواکونو عملي تمرینونه ترسره شول، چې د دواړو هېوادونو د هوايي چلند وسلې پکې شاملې وې.».

روسیې د اټومي او نورو پرمختللو وسلو په واسطه تندې ځرگندونې او گواښونه وکړل او روسي چارواکو څو ځله دغه ډول ځرگندونې کړې دي. د دې تر څنگ یې په هغه صورت کې یې د پرمختللو وسلو کارونې ته اشاره کړې، کله چې د روسیې ملي امنیت ته گواښ پېښ شي او یا برید پرې وشي. د روسیې ولسمشر پوتین د جگړې لپاره د ځواکونو د نوي عمومي بسیج یا راټولېدنې په وخت کې د ۲۰۲۳م کال د اپرېل پر ۱۵مه وویل: «هېواد به یې له ځان څخه د ساتنې او دفاع لپاره له هر ډول وسلو څخه گټه واخلي.» خو د روسیې د امنیت شورا رییس له امریکا سره له نوي اټومي تړون څخه د خپل هېواد د وتلو تر اعلان وروسته وویل: «مسکو به له ځان څخه د ساتنې او دفاع لپاره له هرې ممکنې وسیلې څخه گټه واخلي؛ چې له

ډلې يې د اټومي وسلو کارونه هم ده.» هغه خبرداری ورکړ چې که واشنګټن د مسکو پر ماتې ټينګار وکړي، په ټوله نړۍ کې به هر اړخيزه جګړه پيل شي. روسيه د يو شمېر هېوادونو له لارې او د چين په مرسته په دې هڅه کې ده، چې په اروپايي ټولنه کې نفوذ وکړي. دا کټ مټ هغه څه دي چې چين ته د فرانسې د ولسمشر ايمانويل مکرون په وروستي سفر کې ښکاره شول. څنګه چې فرانسې د هغو هڅو له لارې چې د ۲۰۲۳م کال د اپرېل پر ۲۰مه يې ترسره کړې، د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د چين د ځينو سياستونو منلو لړۍ پيل کړه. د چين او فرانسې د ولسمشرانو په ګډه بيانيه کې راغلي: «پکن او پاريس د ټولو هغو هڅو ملاتړ کوي، چې د نړيوال قانون مطابق او د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د اصولو او موخو پر اساس په اوکراين کې د سولې د چمتوالي لپاره ترسره کېږي.»

روسيې په کور دننه د خلکو تر منځ تبليغات پيل کړل او د امريکا پر وړاندې يې خلک راوپارول او وې هڅول؛ په ځانګړي ډول کله چې په غربي وسلو د روسيې ځينې برخې هدف وګرځول شوې. پوتين څو ځلې ويلي چې امريکا او ملګري يې هوډ لري چې روسيه سره وپاشي او له منځه يې يوسي. د روسيې دغه تبليغاتي اقدام د دغه هېواد د نظاميانو او سياستوالو تر منځ د انقلاب د پيلولو لپاره و، ترڅو د غرب د خوځښت پر وړاندې خپل داخلي صفونه پياوړي کړي. د روسيې خلک د خپل هېواد د استعمار مانا درک کوي، په ځانګړي ډول دا چې هغوی له غرب سره د مبارزې لپاره دوې نړيوالې جګړې تجربه کړې دي.

روسيې هڅه وکړه چې د انرژۍ په تبادله کې د ډالر ارزښت اغېزمن او راټيټ کړي. پر همدغه اساس يې په معاملو او راکړو ورکړو کې د خپلو تېلو ترونونه له يو شمېر هېوادونو سره د ډالر پر ځای په روبل وکړل. روسيې د اوکراين پر وړاندې ويجاړوونکي اقدامات وکړل او د دغه هېواد د انرژۍ مرکزونه، حياتي مرکزونه او صنعتي موسسې يې په نښه کړې. همدارنګه د غرب دفاعي وسلې لکه «پاټرويټ» توغندي يې له منځه يووړل. روسيې د اوکراين کرنيز صادرات له ننګونو سره مخ کړل او پر هغه يې داسې کړۍ راتنګه کړه چې د نړيوال فشار لامل شول. دغه کار د اوکراين په حبوباتو او په ځانګړي ډول په غنمو کې راښکاره شو؛ چې په نړيواله کچه د خوراکي توکو د کمښت او د نړۍ په ډېرى سيمو کې د بيو د لوړېدو لامل شو. د دې تر څنګ د روسيې دغه اقدام د اوسني بحران د مخنيوي او د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د فشار ټکی شو.

روسيې د غربيانو او د هغوی په سياستوالو کې د عمومي افکارو راپارول پيل کړل، چې د دې جګړې موخه د روسيې په نښه کول و، دا جګړه د نړيوالو قوانينو پر اساس نه وه او د نړيوال قانون له منځه تلو سبب کېږي. د روسيې د بهرنيو چارو وزير څو ځلې څرګنده کړه، چې دغه جګړه د هېڅ نړيوال قانون پر اساس نه ده او دغه کار د روسيې لپاره په امريکا کې د ډيموکراتانو او جمهوري غوښتونکو په منځ کې د شخړو د پيلېدو لپاره ښې پايلې ورکړې او له کينې اړخو افراطي ګوندونو سره يې په ډېری اروپايي هېوادونو کې د جګړې لپاره مرسته کړې ده.

دا هغه اقدامات وو چې روسيې د امريکا له سياستونو سره د مبارزې لپاره ترسره کړي او تر اوسه پرې ولاړه ده. د دغه بحث دويمې برخې ته رارسېږو، يعني د دغې شخړې راتلونکی او نړۍ ته يې خطرونه.

دوام لري...

**الرايه جريده: ۴۵۱مه گڼه**

**ليکوال حمد طبيب**

**ژباړه: بهير «وياړ**

**۲۰۲۳م کال د جولای ۱۹مه**